آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۳

# لاروركي لارويان

## څلور ديرشمه برخه

### نا ليدلي، نا پيژندلي لارې

موږ آسيايان هسې هم د اروپايانو له پاره د مرضونو او رواني تكليفونو د ګوډي حيثيت لرو، نو هماغه و چي صحي معاينات پيل شول، وروسته له دې چي د صحي معايناتو نتايج راغلل، ځانګړي كارتونه، يعني اسناد راكړل شول.
د قرنتين په څنګ كې دوه څلور پوړيزه وداني وې او له هغو نه يې د مهاجرينو د كمپ په ډول استفاده كوله، هلته يې وليږدولو، د بنديخاني په شان يې درې وخته ډوډۍ راكوله، خو توپير يې دا و چي دا آزاد كمپ و، موږ كولاى شول چې هره خوا ولاړ شو او آزاد وګرځو، ښار او بازار ته ولاړشو، يعني په ټولنه كې د شامليدو حق يې راكړ.
دا كمپ چې موږ په كې ديره وو، د پراګ په اطرافو كې، له مركز نه په لږ څه لرې واټن كې، د يوه ګڼ ځنګله په منځ كې موقعيت درلود. د كمپ په شا و خوا كې واړه، واړه كلي او طاقه كورونه هم وو، چې د ورځې څلور كه پنځه ځلي سرويس تر ښاره پورې تګ راتګ كاوه. ما سره پيسې نه وې چې څه ور باندې واخلم، ښار ته يوازې د چكر په پلمه تلو. يو خو پراګ ښكلى او د ليدلو ښاردى او بل مې قسم رښتيا كاوه چې پراګ مې ليدلى او په كې ګرځيدلى يم چې بيوګرافي مې لږ چاقه او غوړه شي. لكه د كوم افغان ليكوال چې هر څه يې په ذهن كې ګرځيدلي وو، پرته له دې چې د هغو د پايلو په باب فكر وكړي چې د ده ليكنه ژبې ته، ادب ته، د وطن ملي ګټو ته او په پاى كې فرهنګ ته څه وركولاى شي كه نه؛ هغه يې ليكلي وو. د ښاغلي ليكوال هڅه دا وه چې د آثارو په لست كې يې د يوعنوان كتاب نوم ور ډير شي.
سږو لكه د افغانستان غميزه ورځ په ورځ زور اخيست. زما د لارې ملګري فضل سره پيسې وې، خو ډير كنجوس و، ورى، ترى او لوخ لېر ګرځيده، خو د پيسو مصرفول داسي ور ته ښكاريدل چې خداى مه كړه خپل زامن له لاسه وركوي. ما له ماسكو نه يوه كرتى را اغوستي وه چې هغه هم د روسيي او اوكراين د غولو په ډند كې له منځه لاړه.
زموږ د لارې د بل ملګري كبير زړه راباندې وسوځيد او يو جمپر يې راكړ، خو جنجال په دې كې و چې كبير خان ډير پنډ و او زه ډنګر، په ده كې جمپر تنګ و او په ما كې لوى. د جمپر په اغوستلو سره ما ته د خداى بښلي خان قره باغي د هنري ډلي هغه دولس يا ديارلس كلن هلك چې ډولک يې غږاوه، را په ياد شو چې د يوې سندرې د ثبت له پاره يې د نورو هنرمندانو په څير، ده ته هم يو واسكټ ور اغوستى و، واسكټ د هغه په ځان كې ښه لوى و، ماشوم به چې ډولک واهه، واسكټ به يې له اوږې نه لاندې ښويده او ده به د اوږې په جګولو سره واسكټ بيرته په ځاى كاوه؛ ماشوم له ډولک نه واسكټ سره په عذاب و. د كبير خان جمپر به هم له ما نه هره شيبه ښويده او ما به د هغه د په ځاى كولو له پاره اوږې پورته اچولې. بله ورځ چې ښار ته لاړو په جنجال مي له فضل نه سل ډالره په پور واخستل او يو تود ژمنى جمپر مي واخيست.
د پراګ د مهاجرو په كمپ كې هم څو ورځي پاتي شوو. مازديګر به مو په يو اديتوريم كې واليبال كاوه. يوه چكي ميرمن چې د مهاجرو په همدې كمپ كې ماموره وه، كله، كله به يې مهاجرينو سره واليبال كاوه. دا ميرمن په روسي ښه پوهيده او د افغانانو په درد دردمنه وه، د افغانانو ناسته پاسته او كړه وړه يې خوښيدل. يوه ورځ يې د واليبال د تفريح په وخت كې ما ته و ويل:
«څلور كاله كيږي چي زه په دې كمپ كې ماموره يم، په هره مياشت كې يو يا دوه ځلي موږ ته له زندان نه مهاجرين را ليږي. په دې څلورو كلونو كې ما و نه شول كولاى چې دا كمپ ډك كړم. بس خلک راوستل شي، دلته ګرځي را ګرځي، اسناد چې واخلي هره ورځ په خوشحالي ښار ته ځي. موږ فكر كوو چې ګني چک ښه ځاى دى دا خلک په كې خوشحاله دي؛ خو پنځه يا لس ورځې نه وي تيرې شوې چې خلک بيا تري تم شي، دوى خو وزرونه هم نه لري چې والوزي، دا چيرې ځي او...»
ما چې د خپل سفر كيسه او د انسان د قاچاق داستان نه شو ور ته وېلاى، خبره مې داسي په بله واړوله:
ګوره ميرمني! دا مهاجرين بې وزرو مرغان دي، چيرته يې چې ښه هلته يې شپه.
موږ په خپل پروګرام او سرنوشت نه پوهيدو، دلته هم لكه د افغانستان د خلكو په څير زموږ سر نوشت د هغه چا په لاس كې و چې موږ نه ليدلي و او نه مو پيژانده، هسې د خداى هيلي ته ناست وو، شپې ورځې مو سبا كولې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په همدې کې يوه ورځ د قاچاقبر صاحب؟ استازی راغی او زموږ د ډلې څو تنوته يې په غوږ کې و ويل چې سبا مازديګر د حرکت له پاره چمتو شئ.
سبا مازديګر هم را ورسيد. موږ ته و ويل شول چې په ځنګله کې پرغځيدلي واټ باندې وخوځيږئ، يو وړوکی کلی ته رسيږئ، هلته به د يو کنډواله ډوله ديوال تر څنګه يو فلاينګ کوچ غوندې موټر ولاړ وي، په موټر کې وخيژئ.
موږ دا کار په آرامتيا تر سره کړ، موټر وخوځيد، موږ لکه ړانده او کاڼه بيا هم په شرق و غرب او شمال او جنوب نه پوهيدو، زړونه مو درزيدل چې اوس به مو چيرې وړي او څه به کيږي. د تياري ځادر سم نه وغوړيدلی چې موټر يوې متروکه سيمې ته مخه کړه. هلته هيڅوک نه وو، يوازې ګدام ډوله لويې، لويې ودانۍ وې. د موټر له ورو کيدو سره، د انګړ اوسپنيزه دروازه بيرته شوه او موټر پرته له تم کيدو ور ننوت، بيا د ودانۍ ور بيرته شو او موټر لکه د وزې په خوله کې مږی، په کې ورک شو. پرته له کوم ځنډه دروازې وتړل شوې. په ګدام ډوله ودانۍ کې هم ځانګړې کوټې وې چې مسافرين يې په بيړه په کې ځای پر ځای کړل.
هرو لسو يا پنځه لسو دقيقو کې به همداسې يو موټر له مسافرو ډک را ته او دلته به تشيده. مسؤلين يوازې افغانان نه وو، د نورو هيوادونو اتباع هم په کې ښکته پورته کيدل، چې په اغلب ګمان ويتناميان يا چينايان به وو.
د تيارې حکومت چې برقراره شو، د ګدام په دروازه يو لوی کاماز ډوله لاری راننوته، بدماشانوغوندې خلک تورو لوکسو موټرو کې را ورسيدل. له حرکاتو او امرونو نه يې ښکاريدل چې با صلاحيته خلک دي. ډير زړه ور وو او خپل کارونه يې داسې په ډاډه زړه تر سره کول چې تا به ويل همدوی د دې ښار واکداران دي. موبايل تيليفونونه په شرنګا وو، امرونه تلل او راتلل. د دوی له ډلې نه يو تن چې په روسي ژبه غږيدلای شو، کاماز موټر ته وخوت. د ده وظيفه دا وه چې مسافرين، د هغوی جامې او په ځانګړې ډول ماشومان کنترول کړي چې د بې هوشۍ دوا دوی ويده کړي دي که نه.
په موټر کې ډکې بوجۍ پرتې وې. مسافرين يې يو، يو ور خيژول او لکه بوجۍ داسې يې ځای پر ځای کول. ما مسافرين و نه شول شميرلای شول، ځکه چې موټر ته د ختلو په وخت کې مسؤل سړي د خپل اغوستي جمپر په خاطر وښکنځلم. زما د جمپر تړوته شخه وه او له ښوريدو سره شريده، هغه يې چپه را باندې واغوست.
ډيره ستونزمنه مساله هم د قاچاقبرله پاره او هم د ميندو او پلرونوله پاره، د ماشومانو د ژړا او آرام مسآله وه. د قاچاقبر صاحب؟ له پاره ځکه چې د جرمني په سرحد کې د پوليسو او له هغو نه بد د دوی د سپيو کنترول له خطرو څخه ډک و، نه ويل کيږي ماشوم و نه ژاړي، ونه خاندي او يا ناڅاپه په لوړ غږ سره ډوډۍ او اوبه ونه غواړي. له بده مرغه چې په داسې له خطره ډکو حالاتو او ځايونو کې به قاچاقبرانو ماشومانو ته يا د خوب درمل ورکول او يا به يې د پيچکاری په وسيله کاملاً بې حسه کول. د اوريدو له قراره ځينو ماشومانو چې د بيهوشۍ د يادو درملو د زغملو توان نه درلود، خپل ژوند يې له لاسه ورکړ.
نا چاره او مجبور مسافر لکه باران وهلي کوترې، د خپل نامالوم برخليک په هيله د حرکت شيبې شميرلې، چې په دې کې ډريور موټر ته را جګ شو، ټول مسافر يې مخاطب کړل او وې ويل:
له حرکت نه نيم ساعت وروسته د چک ـ جرمني پولې ته رسيږو، هلته موټر د کنترول له پاره دريږي، بايد د سپين قدرې هم څه وانه وريدل شي او...
خلک ځای پر ځای شول، د موټر ترپالونه ښکته او کلک وتړل شول، موټر حرکت وکړ. چا کلمې ويلې، چا آيتونه چوفول، چا تشه دعا کوله او چا د غم او بې وطنۍ له درانه پيتي سره د يوه تند او مرګوني طوفان په انتظار کې شيبې شميرلې. دا وروستی خطرناکه سرحد او خطرناکه آزموينه وه.
بې اسرې انسانان هر يو جلا، جلا د خپلو ځرتونو په ټالونو کې زنګيدل، چې موټر ودريد. وينه د مسافرو په وجود کې وچه شوې وه، چا سپين قدرې هم نه کاوه، تا به ويل چې د بوجيو پرسرناست انسانان له بوجيو سره بوجۍ شوي دي. ښه تند باد چليده، د موټر ترپال يې ښوراوه او يو ډول سرپهاری يې توليداوه، د باد او ترپال په دې غږ ځوږ کې د ښوريدا په وخت کې، د مسافرو د جامو غږ ځوږ ورکيده. ډريور د چکينګ وخت دوه درې ساعته اوږد ښودلای و، خو موټر له ويل شوي ټاکلي وخت نه ډير ژر وخوځيد.
نور نو د اصلي خطر له دايرې نه وتلي وو. که پوليسو په سرحد کې نيولي وای، موږ يې د زاره ترننی له تکرارنه وروسته بيا د يوې مياشتې له پاره د زندان په دسترخوان کينولو او د قاچاقبرجان؟ د مال او موټر د نيول کيدو تر څنګه، د موټر دريور د زندان اوږدې ميلمستيا ته وړل کيده.
د لوی قاچاقبر هوښيارتيا په دې کې وه چې همدا باروړونکی موټر يې په کوم با اعتباره تجارتي شرکت کې ثبت کړی و چې ټول موټر نه کنټروليده. کنترول يې يوازې همدومره و چې موټر له بار سره تلل کيده او د موټر وزن يې د بارجامې له اسنادو سره تطبيقاوه، په دې ډول د انساني ترافيک کار و باريانو د خبرو ټول اړخونه سنجولي وو.
په دې خبره هلته پوه شوم چې له چک نه د جرمني پر لاره، په همدې موټر کې مې چا ده ده راچوخوله. ډيره تياره وه، هيڅ شی نه ليدل کيده، په ډير ټيټ غږ فضل را ته و ويل:
دا در واخله!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په لاس کې یې څه شی راکړل، که ګورم موميلي دي. ما ور ته و ويل:
خوار نه شې، دا دې له کومه را پيدا کړه؟
ده و ويل:
يوه بوجۍ مې وڅيرله، فکر کوم په ټولو کې موميلي دي.
قاچاقبر په موټر کې ځکه موميلي بار کړي وو، چې وزن يې ډير لږوي، نور وزن يې په هغو مسافرو وربانديې پوره کړی و، چې دوی غربي اروپا ته تيرول.
د قاچاقبر دې موټر به هره چهارشنبې پيره وهله. د دې له پاره چې د جرمني پوليس ته د دوی پلان افشا نه شي، نو يوه چهارشنبې به يې مسافر د جرمني فرانکفورت ښار ته رسول او بله چهارشنبه به يې د جرمني هامبورګ ښار ته رسول. دا دواړه ښارونه تقريباً څلور سوه کيلومتره سره لرې دي. له بده مرغه چې زموږ نوبت پر فرانکفورت ور پيښ شو. څنګه چې زما او يو شمير نورو سر منزل ډنمارک و، که پر هامبورګ ور پيښ شوي وای، نو زموږ سفر به لنډ او بيخطره وای.
زموږ د دې شپې سفر پای ته ورسيد. موټر فرانکفورت ته څيرمه يوه وړوکي ښار ته چې کسل نوميږي، ورسيد. توره تياره، موبايل تيليفون، ګڼ ځنګل، دا هغه شيان وو چې د قاچاقبرانو کار يې ډير آسانه کړی و. په يوه ګڼ ځنګله کې يې د تورې شپې تر تورې لمنې لاندې خوشې کړو او خپله داسې تري تم شول لکه د يتيم له خولې نه چې خندا مروره شي.
څوک نه پوهيدل چې څه وکړي، او زه ډير وروسته پوه شوم چې له دې ځايه مو پوليس بيرته نه شي ليږلای. قاچاقبران داسې د اروپا د مهاجرت په قوانينو بلد او خبر وو، لکه دوی چې د دې قوانينو طراحان وي. د جرمني په خاوره کې يې دومره وړاندې بيولي وو، چې د بيرته ليږلو يا ديپورت د قانون له کړۍ نه خلاص وو. ويل کيږي که يو مهاجر پناه غوښتونکی د يو اروپايي هيواد په خاوره کې تر اتيا کيلومترو وړاندې ولاړشي، بيا ديپورت کيدای نه شي.
قاچاقبر عمداً په دې ځای کې ښکته کړي وو، چې پوليس مو ونيسي، کوم آرام ځای ته مو بوزي، په آرامه ډوډۍ او اوبه راکړي، بيا مو په کمپونو کې ځای پرځای کړي؛ بيا د قاچاقبر استازی يا په کمپونو کې نيغ ولاړ وي او يا يوه ورځ وروسته ځان رسوي او که داسې هم و نه شول، مسافر خپله بايد له قاچاقبر سره اړيکې ټينګې کړي، خپله پته او د کمپ څرنګوالی ور ته و وايي، بيا هغه پوهيږي او کار يې.
وروسته له هغه يې چې مسافرين په ځنګله کې پياده کړای شول، چا ته که پخوا لارښوونه شوې وه، هغوی ځان عمومي واټ ته و رساوه چې پوليس يې ونيسي، په تيره هغه ډله خلک چې وروستی منزل يې همدا جرمني و.
موږ لکه نابلده غلو غوندې په کادان ننوتو. موږ درې تنه ملګري د پوليسو له ډاره دننه په ځنګله کې روان وو. څراغونه ښکاريدل، موږ داسې ګڼلې وه چې دا به کوم ښار ګوټی وي.هلته به ورشو، ټکسي به ونيسو او هامبورګ ته به ولاړ شو، خو وروسته له ډير مزله نه پوه شوو چې موږ په سراب پسې روان يو. په پای کې ازغن سيمان مخې ته راغله او لاره بنده شوه. څراغونه هماغسې لرې وو او له لرې يې سترګکونه وهل.
ناچاره بيرته را وګرځيدو او په نا اميدۍ هغه ځای ته ورسيدو چې له موټر نه پياده شوي وو، موږ سره ټول راغلي مسافر تري تم شوي وو، ته وا خدای مه کړه مځکې خوړلي اوسي. لږ وړاندې عمومي سرک و، هلته ور نږدې شوو.
موږ ويلي چې څه چا سره به خبره پخه کړو، موټر به په کرايه ونيسو او هامبورګ ته به ځو. په دې خبر نه وو چې ډيری جرمنان په آسانه په بله ژبه نه غږيږي، يوازې جرمني ته اړم وي، نور که د هرې ژبې سُرنی ور ته و وهې، مه دې سه.
په ډير جنجال مو د تيلو يو ټانک ته ځانونه ورسول، زموږ يو ملګري ډالر په مارک باندې تبديل کړل او  د مارکو په تر لاسه کولو سره مو غوښتل چې قاچاقبر ته زنګ و وهو، په همدې شيبه کې هغه کورنۍ چې موږ ورسره د ماشومانو د وړلو مرسته کړې وه را پيدا شوه، هغه کورنۍ زموږ له پاره ښه شوه. دې کورنۍ له اصلي قاچاقبر سره څه خپلوي درلوده، هغه سره يې چې تيليفوني اړيکې ټينګې کړې، قاچاقبر وروسته له څه لنډې شيبې نه ور ته و ويل چې تاسو د همدغې سيمې د ريل ګاډي تم ځي ته ورشئ هلته يو ترک زلمی راځي دا او دا يې نښې دي. موږ سمدلاسه هلته ځانونه ورسول، لکه د شپې نوم څه نښې مو سره تبادله کړې، ترک ګوډه ما ته ايرانۍ فارسي ويله، خو موږ پرې پوهيدلو. په ډيره بيړه او مهارت يې پوه کړو چې څه وکړو. شيبه وروسته تُرک زلمي موږ هر يوه ته يو، يو ټکټ په لاس کې را کړ او زياته يې کړه چې هر يو تن سره بايد يو ماشوم وي. هر چا ته يې يو، يو اخبار هم په لاس کې ورکړ او وې ويل:
دا اخبارونه په تُرکي ژبه دي، زه پوهيږم چې تاسې يې لوستلای نه شئ، خو کله، کله يې عکسونو ته ګورئ او کله يې داسې پاڼې سره واړوئ چې ګڼې لوستلای يې شئ او کله، کله سترګې داسې پټې ونيسئ چې ويده ياست.
د فرانکفورت او هامبورګ ترمنځ په اوږده لاره کې مو څو ځلې ريل بدل کړ. زموږ لارښود تُرک به يا په اشارو او يا په خبرو لارښوونه کوله چې کوم ريل او کوم واګون ته وخيژو.
مازديګر مهال و چې هامبورګ ته ورسيدو. ګڼه ګوڼه ډيره وه، د تور ويښتو او زيړ ويښتو توپير نه و، هر چا هرې خوا ته منډې وهلې. قاچاقبر مخکې او موږ ور پسې، يو څه پياده لار مو و وهله، چې په يوه رستوران يې و رسم کړو. وروسته له لسو دقيقو يو افغان را پيدا شو. اول يې دا ماشوم داره کورنۍ بوتله او چيرې يې ځای پرځای کړه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بیا یې موږ یو هوټل ته بوتلو چې ډیری کارکونکي یې ایرانیان وو. د باندې وتلو اجازه مو نه درلوده، ډوډۍ به یې کوټې ته راوړله.
پنځه ورځې مو په دې هوټل کې د بندي مرغانو په څیر تیرې کړې. شمس نومی ملګری مو لا په پراګ کې له موږ نه جلا شوی و، زموږ په ډله کې پنځه تنه پاتې وو. زما، د دریو تنو مخه د ډنمارک په لور وه، دوه تنه نور لندن ته تګونکي وو.
پنځه ورځې وروسته، پرته له دې چې په دلیل یې پوه شو، له هوټل نه وخوځول شوو، همالته په هامبورګ کې یې د مهاجرینو یو کمپ ته بوتلو، په دې کمپ کې هم د قاچاقبر نماینده نیغ ولاړ و او په دې کمپ کې یې قانوني ژوند درلود. هغه موږ په یوه کوټه کې ځای پر ځای کړو. دوې ورځې وروسته یې سهار مهال خبر را کړچې مازدیګر حرکت دی. د لندن تګونکي یې له موږ نه مخکې وخوځول، مازدیګرمهال یې موږ هم له کمپ نه ویستو، په میترو کې مو څه لاره و وهله، بیا یې د تکسي په سورلی په کوم لوري وخوځولو.
له ټکسي نه چې ښکته شوو، مسؤل سړي و ویل په ما پسې راشئ. که ګورم چې بیا د مسافرو شمیر په ډیریدو شو، مسافر په سترګو کې سره پوهیدل چې ټول د یوې لارې لارویان دي. ټول څوارلس تنه شوو، چې ډیری په کې افغانان وو. په شخصي موټرو کې یې کینولو او موټرو په بیړه حرکت وکړ. موټر دومره په چټکۍ روان وو، تا به ویل د کوم وحشي اور د وژلو ماموریت ته روان دی. اوږده لاره یې په لږ وخت کې و وهله، له عمومي واټ نه یوې کروندې ته ور تاو شو. د ونولاندې ګڼو بوټو سره یې ښکته کړو او وې ویل:
په همدې بوټو کې ځانونه غلي کړئ، څو شیبې وروسته دوه تنه راځي او تاسو بیايي. دا د دوه زرم کال د دسمبر لومړۍ شپې وې.هوا سړه وه او تند باد په بې رحمۍ په څاپیړو وهلو.
موږ خپلو نویو آمرینو ته شیبې شمیرلې، دې کې نیم ساعت، یو ساعت واوښت، څوک را مالوم نه شول. یخنۍ پسې اخیستي وو. بوټو ته نږدې د ګڼو ونو ځنګلګوټی و، لږ باد پناه و، د یخ او باد له ظلمه موهلته پناه واخسته.
وروسته له ډیر انتظار نه د پښو څپهاری تر غوږ شو، که کتل مو دوه تنه چې هیڅ ځای یې اروپایانو ته نه پاتې کیده، را پیدا شول. دوی هم لکه نور سرحدي قاچاقبران په روسي ژبه غږیدل. په اغلب ګومان چې دا هم د پخواني شوروي اتحاد په دایره کې د شرقي اروپا د کوم هیواد اوسیدونکي وو چې د انسان د ترافیک کار و باریانو استخدام کړي وو.
له را رسیدو سره سم یې، خپله وطني تباره را باندې تیزه کړه، څومره ښکنځلې چې یې زده وې، هغه یې زموږ په آدرس ځکه را حواله کړې چې ولې موږ ځای بدل کړی دی. پر ستوني مو تیره چاړه ایښودل شوې وه، ځکه مو څه نه شول ویلای.
دوی چې له ښکنځلو او غومبیدو ستړي شول، لکه د نورو هیوادونو د سرحدونو په څیر یې ټول خوارکوټي مسافران په یوستوي لیک کې ودرول، له دوی نه یو تن د کتار په سر کې او بل یې د کتار په پای کې، حرکت پیل شو.
څو شیبې وروسته واټ په مخه راغی، لکه سیلۍ چې د ونو پر پاڼو تیریږي، داسې له سرک نه واوښتو. دلته ونې نه وې، چې موږ یې په پناه ځای کې په آرامه تللي وای، دلته ستونزمنې کروندې وې. ستونزه یې په دې کې وه چې دا د ریبل شوو جوارو کرونده وه. جواریوه لویشت جګ ریبل شوي وو، پاتې شونې یې داسې وچ او شخ شوي وو، چې قدم اخیستل په کې ډیر ګران و، خو موږ له ناچارۍ په کې روان وو.
ښځې او ماشومان لږ سست روان وو، یوې میرمنې سره دوه د لسو او دولسو په منګ ماشومان وو. دا ښځه ما له هغه وخته پیژانده چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي کې محصله وه. په هامبورګ کې چې کله قاچاقبر ټول مسافر سره یو ځای کړل ما او دې د قاچاقبر د سپاربښت له مخې سلام او سټړي مه شې و نه شوه کړای. دې میرمنې سره د ماشومانو له جنجاله اضافه یو لوی پنډکی هم و. ما د جرمني چک د سرحد له ترخې تجربې او ډار نه ځان د کتار منځ ته برابرکړی و. ټول غلي روان وو او مؤظف سړي ته غوږ په آواز وو چې څه وایي. په دې کې مې ورو، ورو زګیروي او وش و وای واوریدل. څو شیبې وروسته زګیروي په ډیریدو او له ډیریدو نه وروسته په ژړا بدل شول. ښځه ولویده او ماشومانو یې چغې کړې. زه ور نږدې شوم، که کتل مې د نر لور هماغه د کابل پوهنتون د پخو او ښایسته سرکونو بوټونه په پښو دي، خو یو بوټ داسې شکیدلی و، چې نور له کاره لویدلی و، زګیروي یې هم د دې له پاره وو چې د جوارو شخو، شخو ډکو پښه څو ځایه ور زخمي کړې وه.
ښځې د جګیدو ځواک له لاسه ورکړی و، ما لاس ور نږدې کړ او له افغاني دود سره سم مې غږ پرې وکړ:
زما خور او لور یې، لاس دې را کړه چې د خبرو او دمې وخت نه دی. ښځې لاس را کړ او جګه شوه. ما ور ته و ویل چې کولای شې زما بوټ په پښو کړې، خو بوټ یې په پښو کې لوی و، زما دوه جوړه جرابې په پښو وې، هغه مې ورکړې، ایله یې دمه لږ جوړه شوه.
شا و خوا نږدې کورونه، موټر او خلک نه ښکاریدل، خو بیا هم د غلو په شانې پټ غږیدو. ما ورته و ویل دا ستونزمنې لارې او له خطرونو ډک سفرونه؛ د داسې کالیو اغوستل داسې د جګو پوندو بوټ پښو کول دا ماشومان او دا لوی پنډکی؛ دا هیڅ نه سره جوړیږي. تا داسې کالي اغوستي دي لکه کوم واده ته چې روانه یې، زه نه پوهیږم،چا نه وې پوه کړې که څنګه؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دې و ویل:
په ماسکو کې یې زما خاوند ته و ویل چې میرمن او ماشومان دې تر ډنمارک پورې ګل غوندې، پرته له ستونزو رسوو، ته بیغمه اوسه. له ماسکو نه تر هامبورګ پورې په الوتکه کې راغلو، یوازې نن شپه یې دا دی د مرګ تر پولې را ورسولو.
قاچاقبر خو په دې خوشحاله و چې ما ښځه له ختو را جګه کړه او مخ په وړاندې روان وو، خو ښځه ډېره ستړې وه او د خپلو پښو د زخمونو په وجه له ګړندي تګ نه پاتې وه. قاچاقبر له ډېره قهره شین سور سره اوښته. موږ یې باید په ټاکلي وخت هغه ځای ته رسولي وای چې نور خلک له موټر سره موږ ته په انتظار کې شیبې شمېرلې. له هماغه قهر سره ما ته را نږدې شو او په زهرجنه لهجه یې را ته و ویل:
ښځه دې ډېره ټنبله ده، سمه تلای نه شي. که څه پېښ شول مسؤلیت به تا ته در له غاړې وي او...
ما په ځواب کې د ویلو له پاره څه نه درلودل. میرمن چې د رسیدو د زیري په انتظار کې شیبې شمېرلې، په بېړه یې له ما نه پوښتنه وکړه چې سرې څه و ویل؟ خو ما څه و نه ویل او د وړاندې تګ اشاره مې ور ته وکړه.
هلته لږ لرې بوټي او ونې ښکاره شوې، په بېړه یې ور نږدې کړو او تر بوټو لاندې یې د پټېدو را ته و ویل. زموږ له پټنځي نه لږ وړاندې یوه زړه شانتې ودانۍ لیدل کېده، د هغې په ډډه باندې ډنمارک لیکل شوي وو. د ډنمارک په لیدلو او لوستلو سره مې لږې لاړې تر ستوني تیرې شوې او له ځان سره مې و ویل چې څه سړیه که دومره ستړی شوې، ډنمارک ته خو دې پښه ورسیده.
زموږ ساتونکو او لارښوونکو په موبایل کې څه ګونګوسی پیل کړ، څو شیبې وروسته یو کېږی غوندې موټر را پیدا شو، په منډه ور وختلو، ساتونکي لکه د هاغه نورو ورونه چې وي، هماغسې یې ځانونه ترې تم کړل.
له حرکت نه وروسته مو چې لږ دمه جوړه شوه، پوه شوو چې زموږ نوي مسؤلین هم موږ سره په روسي ژبه مکالمه کوي. دوی ګوډه ما ته روسي ویله، په اغلب ګمان چې دوی هم د شرقي اروپا اوسیدونکي وو.
په موټر کې یوازې دوې چوکۍ وې، یوه د ډریور او یوه یې په څنګ کې د یو بل تن له پاره. د دوو څوکیو ترشا لکه زندان یوه اوسپنیزه پنجره نیول شوې وه. د موټر پاتې برخه هسې بیدیا غوندې تشه وه، ښایي دا به د بار وړلو موټر و، موږ هسې لکه رمه په کې پنډ وو.
ساتونکو موږ ته و ویل چې تاسو کوپنهاګن ته رسوو. موټر څه د پاسه درې ساعته مزل کړی و چې د تیلو یو ټانګ ته ور وګرځېد. د ټانګ په شا و خوا کې ګڼه ګونه نه وه، یوازې یو موټر د تیلو اچولو په حال کې و. مسؤلینو موږ ته و ویل:
«همدا کوپنهاګن دی، ښکته شئ.»
موږ له دوی نه د ریل ګاډي د تمځي پوښتنه وکړه، خو دوی ته نور څه نه وو مالوم او وې و ویل چې زموږ وظیفه پای ته ورسیده. چا د تیلیفون پوښتنه کوله، چا د ټکسي آدرس غوښته او څوک د خوراکي توکو او اوبو په لټه کې و.

د څلور دیرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ